کتاب
۴ مخ

مسير
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۱۷مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر نهمه | ۴۴۲مه ګڼه


# ولسمشريزې ټاکنې؛

## مولانا عبدالله: ښايي د کارونو د پخوالي له امله لومړنۍ پايلې په ټاکلې نېټه اعلان نه شي



## ټاکنې؛ لانجمنې معاملې، پايلې او نامعلوم برخليک

۲ مخ


## د سولې مذاکرات؛ د امريکا ضد او نقيض دريځونه

۲ مخ

## اقتصادي سياستونه

۵ مخ

## چارلي چاپلين




په دغه کتاب کې د چارلي چاپلين د ژوند، فکر، هنر او د نباغلي چاپلين له فکري زاويې د ژوند کولو سبک زده کولای شی.

## جاپان په افغانستان کې د طبيعي پېښو له زيانمنو سره مرسته کوي



جاپان د خوړو نړيوال پروګرام (WFP) له لارې په افغانستان کې له ۱۷۳ زرو اړو کسانو سره د ۲.۷ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت، د خوراکي توکو مرسته کوي.
په کابل کې د جاپان سفارت په خبرپاڼه کې راغلي چې دغه مرستې به د نړيوال خوراکي پروګرام لخوا د طبيعي او انساني افتونو له ځپل شوو څه باندې ۱۷۳ زرو وګړو سره په راتلونکو ۱۲ مياشتو کې وشي. په کابل کې د جاپان سفارت شارژدافير تاکاهاشي وايي، افغانان طبيعي افتونو لکه وچکالۍ او سېلاب ځپلي چې مرستو ته شديده اړتيا لري.
د افغانستان لپاره د نړيوال خوراکي پروګرام استازی ميليسيج وايي، د يادو پيسو پر مټ به پر اړو او د جګړو او طبيعي پېښو له امله بېځايه شوو کورنيو ته د دوو مياشتو لپاره اوړه، غوړي، حبوبات، مالګه او د کوچنيانو لپاره ځانګړي مغذي خواړه وويشل شي.

## عمران خان: امریکا او طالبان باید له سره د سولې خبرې پیل کړي

د پاکستان لومړي وزير عمران خان د امريکا او طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو د بيا پيلولو غوښتنه کړې ده.
عمران خان ويلي، دواړه خواوې سوله غواړي او بايد دا مذاکرات له سره پيل شي.
نوموړي تېره ورځ په اسلام اباد کې د امريکا له ځينو قانون جوړوونکو سره له ليدنې وروسته ويلي چې د افغانستان د شخړې يوازينی حل د سولې مذاکرات دي.
بلخوا پاکستاني رسنيو هم ويلي، چې عمران خان امريکايي استازو ته ويلي چې هېواد به يې د تېر په څېر په افغانستان کې د سولې د راوستلو لپاره هلې ځلې کوي.
دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ د افغانستان د سولې په چارو کې د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد په اسلام اباد کې د طالبانو له استازو سره وليدل.
ځينې پاکستاني رسنۍ وايي چې طالب مشرانو له عمران خان سره هم ليدلي دي، خو د پاکستان د لومړي وزير مرستيال فردوس عاشق اعوان دا راپورونه رد کړي.
د يادونې ده چې ولسمشر ټرمپ تېره مياشت په کابل کې د طالبانو په يو بريد کې د يو امريکايي له وژل کېدو وروسته، له طالبانو سره د سولې خبرې لغوه اعلان کړې.
دغه خبرې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د زلمي خليلزاد په مشرۍ د امريکايي پلاوي او طالبانو ترمنځ نږدې لس مياشتې مخکې پيل شوې چې تر نهو پړاوونو پورې وغځېدې او له کومې هوکړې پرته د ټرمپ لخوا لغوه اعلان شوې.

## ځينې نوماندان د پايلو د ژر اعلان لپاره پر کمېسيون فشارونه راوړي



۲ مخ

## ادارۀ عملیاتی: هزینۀ کمپاین های انتخاباتی در تالار لویه جرگه به دوازده میلیون افغانی رسیده است



کمپاین های انتخابات ریاست جمهوری امسال برخلاف سال‌های گذشته بیشتر در پایتخت متمرکز بودند.
نامزدان انتخابات ریاست‌جمهوری، بیشتر گردهمایی‌های بزرگ شان هم در تالار لویه جرگه برگزار شدند.
نامزدان برای هر برنامه‌یی که در این تالار می‌گرفتند، ۳۰۰ هزار افغانی تا ۵۰۰ هزار افغانی باید به حکومت می‌پرداختند.
ادارۀ عملیاتی و حمایتی انکشاف ملی ریاست‌جمهوری، می‌گوید که هزینۀ کمپاین های انتخاباتی نامزدان انتخابات ریاست‌جمهوری در تالار لویه جرگه نزدیک به دوازده میلیون افغانی شده است.
به گفتۀ این اداره، این پول‌ها از تمامی نامزدانی که در تالار لویه جرگه برنامۀ انتخاباتی داشتند، گرفته شده و به خزانۀ دولت واریز شده‌اند. حجت‌الله مجددی، مسؤل مطبوعاتی ادارۀ عملیاتی و حمایتی انکشاف ملی ریاست‌جمهوری در این باره گفت: «کمپاین‌های انتخاباتی که در تالار لویه جرگه برگزار شدند، یازده میلیون ۸۲۲ هزار افغانی به حساب واردات دولت انتقال یافته‌است».
تیم انتخاباتی «دولت ساز» به رهبری محمد اشرف غنی با پرداخت پنج میلیون و ۳۰۲ هزار افغانی و تیم انتخاباتی «ثبات و هم‌گرایی» به رهبری عبدالله عبدالله با پرداخت سه میلیون و ۳۷۴ هزار افغانی، از تیم های اند که بیشترین پول را به تالار لویه جرگه پرداخته‌اند.
کمپاین های انتخاباتی نامزدان انتخابات ریاست‌جمهوری، برای شصت روز (شش اسد تا سوم ماه میزان) ادامه داشتند.



Aksos
اکسوس کتاپلورنځی
Aksos Book Store
Add a book to your life
دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریځ

### ټاکنې؛ لانجمنې معاملې، پایلې او نامعلوم برخلیک

د ولسمشریزو ټاکنو په تړاو په وروستي بدلون کې ویل شوي؛ لومړنۍ پایلې چې ټاکل شوې وه د تلې میاشتې په ۲۷م اعلان شي، ځنډیږي او په خپل وخت نه اعلانیږي. د ټاکنو کمېسیون مني چې له بایومټریک وسیلو څخه د معلوماتو ملي مرکز یا ډېټا سنټر ته د معلوماتو لېږد ورو روان دی. دوی په دې برخه کې د ستونزو خبره کوي او وایي چې د ستونزې د حل لپاره یې کسان ګومارلي دي. سره له دې چې خورا کمو خلکو په ټاکنو کې برخه واخیسته، تمه وه چې کمېسیون به خپل کارونه په وخت او ښه ډول وکړي، خو وروستي بدلونونه ښیي چې په کمېسیون کې پراخې ستونزې دي او دا ستونزې د دې سبب کېږي چې د ټاکنو د پایو اعلان وځنډیږي.

له شک پرته سیاسي فشارونه او لاملونه هم شته. کمېسیون له یوه اړخه تر فشار لاندې دی چې ټاکنې د مهالوېش پر اساس اعلان کړي، خو له بله اړخه تر فشار لاندې دی چې پایلې وځنډوي. تخنیکي لاملونه هم اساسي رول لري، آن داسې ویل کېږي چې مرکزي سرور هک شوی دی او د همدې لپاره د درملوک کمپنۍ انجنیران را غوښتل شوي چې ستونزه حل کړي. له دې امله چې په ټاکنو کې کمو خلکو ګډون کړی و، تمه وه چې تر ټاکل شوي وخت مخکې به پایلې اعلان شي، خو کمېسیون د ځنډ خبره کوي، دا خبرې د پراخ سیاسي او تخنیکي ستونزو تصویر ورکوي.

له بله اړخه کمېسیون د بهرنیو ډیپلوماتو پر مېلمستون بدل شوی دی. هره ورځ کمېسیون ته ډیپلوماتان ورځي او هلته د خپلو غوښتنو د عملي کولو لپاره پر کمېشنرانو فشارونه راوړي. داسې ښکاري چې کمېشنران هم یو ډول له دغو ډیپلوماتانو سره په شریکه کار کوي او هغه څه کوي چې دوی ورته وایي. هېڅوک نه پوښتي چې په کمېسیون کې امریکایي، برېټانوي، کاناډایي او نور ډیپلوماتان څه کوي؟ دوی ولې د ټاکنو په چارو کې لاسوهنه کوي او هدف یې څه دی؟ له بده مرغه کمېسیون هم د دې پر ځای چې خلکو ته رښتیا ووایي، هڅه کوي چې د خلکو په سترګو کې خاورې وشیندي. دوی د پاکو او ناپاکو رایو د جلا کولو خبره کوي، خو نه وایي چې تخنیکي ستونزې لري، نه وایي چې ښایي هکران د دوی سیستم ته ننوتي او یا ننوځي. دوی نه وایي چې تر پراخ سیاسي فشار لاندې دي. دوی نه وایي چې ارګ، سپیدار ماڼۍ او بهرنیان ترې بېلابېلې غوښتنې لري. له همدې امله ستونزې پراخیږي او ښکاري چې د ټاکنو پایلې به بیا هم له لانجو او ستونزو ډکې وي.

که څه هم څه باندې دوو میلیونو خلکو په ټاکنو کې برخه واخیسته، خو اوس داسې ښکاري چې رایه ورکوونکي به د خپلې رایې عذابویني او آن دا عذاب به ټولو خلکو ته ورکول کېږي. په واضح ډول ښکاري چې تېرو ټاکنو موږ د یوه بل بحران لوري ته روان کړي یو. ښایي د دې ټاکنو پایلې ژر اعلان نه شي، که اعلان هم شي، لانجمنې به شي. ښایي ټاکنې دویم پړاو ته ولاړې شي او دویم پړاو به بیا راتلونکي کال ته پاتې کېږي. په دې ډول موږ به لا نور هم په دغه ناوړه، بې برخلیکه او زیان رسوونکي حالت کې پاتې وو.

# د سولې مذاکرات؛ د امریکا ضد او نقیض دریځونه

لیکنه: ف، فایض

که امریکا په هغه څه کې چې ادعا یې کوي، رښتینې وی، ښایي تر ۲۰۰۱ ز کال وروسته نور په افغانستان د جنګ اور نه وای بل شوی؛ خو امریکا له پیله دروغ وویل. څرنګه چې افغانستان ته د شوروي لښکر را تګ کومه آنې خبره نه وه، لکه څنګه چې لوېدیځ لیکوال انتوني ارنولد په خپل کتاب کې چې په دري ژبه د (سوابق تاریخي تجاهم روس بر افغانستان) په نامه د شهید استاد سید رسول لخوا ژباړل شوی، په دې برخه کې ډېر مستند دلایل وړاندې کړي چې څوک تاریخي مطالعه لري، ډېر ژر پرې قانع کېدای شي. دغسې افغانستان ته د امریکا راتګ هم کومه آنې او تصادفي خبره نه ده. دا داستان چې و، نه و یو عرب و چې نوم یې اسامه بن لادن و، هغه د القاعدې په نوم یو تنظیم درلود، نوموړي پر نیویارک او واشنګټن بریدونه وکړل او دری زره امریکایان یې ووژل چې طالبان د هغه کوربانه وو؛ نو اسامه تروریست و او القاعده هم تروریستي تنظیم و او طالبانو چې هغه ته ځای ورکړی و؛ نو دوی هم که څه هم د سپټمبر په پېښو کې دخیل نه وو؛ خو د تروریزم ملاتړي وو؛ دا ټولې هسې بابېزه خبرې وې چې امریکا هغه وخت پر افغانستان د یرغل لپاره پلمه کړې.

امریکا دا دې اتلس کاله له طالبانو سره وجنګېده او په دې موده کې یې پرې مختلف نومونه کېښودل؛ خو په پای کې یې سر پر دې کرښه کېښود چې موږ له طالبانو سره دښمني نه لرو او اوس یې هغه دې ورسره د سولې مذاکرات پیل کړي. له دې مذاکراتو څخه دوې خبرې مخ ته راځي: یو دا چې د طالبانو په باب د امریکا ادعا له پیله سمه نه وه او دویمه دا چې که فرض کړو د امریکا ادعا د طالبانو په باب رښتینې وه، اوس یې د جنګ په ډګر کې تر ډېره بریده ماتې خوړلې؛ ځکه خو غواړي چې ځان ته د تېښتې یوه داسې لار پیدا کړي، چې سبا ته یې دا ماتې د پوزې پېزوان نه شي او د دې تر څنګ دا خبره هم کمه نه شي ګڼل کېدای چې د امریکا د ولسمشرۍ ټاکنو ته شاوخوا یو کال پاتې دی او د ۲۰۲۰ ز کال په وروستیو کې به دا ټاکنې تر سره کېږي او ټرمپ چې خپلو ناکامو سیاستونو ډېر بدنام کړی، ترڅنګ یې د سوریې، ایران، وینزیویلا، شمالي کوریا او افغانستان په مسئلو کې هم له ماتې سره مخ شوی. ټرمپ اوس غواړي له طالبانو سره د نیم- نیم بنده سولې په کولو سره ځانته یوه د ختو پوزه کېږدي او خپل ملت پرې قانع کړي چې د یوې بلې دورې لپاره امریکایي ولس رایه ورکړي.

که څه هم د سولې لپاره مذاکرات روان دي او په دې باب مختلفي څرګندونې کېږي، پخپله ټرمپ اعلان کړه چې په راتلونکو دوو اونیو کې به د افغانستان په باب یو ښه زېری واوری، وبه ګورو چې دا ښه زېری څه دی. واشنګټن پوسټ امریکایي ورځپاڼه بیا کاږي چې: «ټرمپ به په افغانستان کې د امریکا احتمالي بریا په یوه شرمېدلې ماتې بدله کړي». ځینې سرچینې بیا دا موضوع ۹۹ سلنه حل بولي، ځینې بیا وایي چې د طالبانو او امریکا تر منځ ډېرې اختلافات لا پر ځای دي او خبرې به هم لسم پړاو ته داخلېږي. دغسې ډیلي ټایمز ورځپاڼه بیا مدعي ده چې طالب مشران د امریکا د وتلو د مهالوېش پر سر خپلو کې سره اختلاف لري.

په هر حال، تر اوسه پورې خبره لا پوره روښانه نه ده؛ ځکه ټرمپ دا خبره بیا بیا کوي چې په افغانستان کې به د سولې د موافقه لیک تر لاسلیک وروسته، هلته خپل نظامي حضور را کم کړي؛ خو پر خپل استخباراتي فعال حضور یې ټینګار کړی دی. لږ تر لږه امریکا چې په کابل کې پر خپل سفارت کوم لګښتونه وکړل، یا یې د بګرام پر هوایي اډه وکړل یا پر نورو تاسیساتو، له هغې نه سړی دا اټکل کولای شي چې امریکا په افغانستان کې کوم اهداف تعقیبوي. که امریکا وغواړي دا اوس هم حتی د افغانستان د ګاونډیانو په مرسته هم پر طالبانو لازم فشار راوستلای شي؛ خو زما خپل اټکل دا دی چې امریکا، افغانستان ته د رښتینې سولې په راوستلو کې صادقه نه ده. ګارډین ورځپاڼه بیا کاږي چې د ټرمپ د سولې تړون له افغانستان او افغانانو سره خیانت دی، د ورځپاڼې په وینا، ټرمپ غواړي د ولسمشریزو ټاکنو په درشل کې ځانته یو کرېډېټ واخلي چې د امریکا تر ټولو اوږده جګړه یې ختمه کړه. دلته دې حقیقت ته هم پام کول پکار دي چې امریکا یو داسې هېواد نه دی چې یو سړی د ولسمشر په نامه په سپینه ماڼۍ کې کښېني او څه یې چې زړه غواړي هغه وکړي. د امریکا حکومتي نظام ډېر پېچلی دی، هلته نظام یوازې د ولسمشر لخوا نه اداره کېږي؛ بلکې د سپینې ماڼۍ په شمول د دفاع وزارت، د ملي امنیت شورا سلاکار، د بهرنیو چارو وزارت، استخباراتي اداري او ډېرې نورې هغه اداري چې هغه ډېرې ښکاره نه دي، ټول د نظام په رهبرۍ کې نقش لري. یانې که دا خبره په یوه جمله کې روښانه کړو، هغه به دا وي چې ټرمپ په یوازې ځان یوه دغسې پرېکړه نه شي کولای چې د ده پکې ګټه وي؛ خو د هېواد په ګټه یې بیا نه وي. یادې اداري او لوری هېڅکله د امریکا ولسمشر ته دا که ټرمپ وي یا بل هر څوک، دا اجازه نه ورکوي چې د امریکا ګټې او ستراتیژیک اهداف وګواښي.

په امریکا غوندې یوه هېواد کې ولسمشر هلته ډېر اساسي بدلونونه نه شي راوستلای او خصوصاً بیا د بهرني سیاست په برخه کې. د افغانستان قضیه هم د امریکا د بهرني سیاست یوه برخه ده، په دې مسئلې پورې د امریکا ډېر ستراتیژیک اهداف تړلي دي. د امریکا ډېرې ګټې په دې سیمې پورې تړلې چې د ګټو تر لاسه کولو یو میدان یې موږ یو. له منځنې ختیځه یې را واخله تر افغانستان او بیا تر جنوبي اسیا او دا دې اوس تر مرکزي آسیا پورې دا ساحه پراخه شوې ده. د چین په باب خو پخپله ټرمپ وویل چې په نړۍ کې د امریکا تر ټولو ستر دښمن چین دی، دا اوس یې چې له چین سره کومه اقتصادي جګړه پیل کړې، دا د دې ادعا ښکاره ثبوت دی، امریکا او چین د جغرافیایي بُعد له نظره یو له بله ډېر لرې واقع دي؛ خو دا ستراتیژیک اهداف او اقتصادي ګټې دي چې یو د بل پر وړاندې یې درولي دي. چین چې خصوصاً د کارګرو له پلوه کومې اسانتیاوې لري، امریکا یې نه لري، په کومه اجوره چې یو چینایي کارګر کار کوي، یو امریکایي کارګر ښایي هغه ځانته یو سپکاوی وګڼي؛ نو پر دې اساس که امریکا کوم شیز جوړوي او په کومه بیه ورته تمامېږي، چین ته د امریکا په تناسب ډېر ارزانه تمامېږي. د بېلګې په ډول، که چین همغه شیز په لس ډالره وپلوري په هغه کې به څو ډالره ګټه کوي؛ خو که امریکا یې په همدې بیه پلوري ښایي څو ډالره زیان وکړي؛ نو په دې توګه امریکا له چین سره په سخت رقابت کې واقع ده. همدارنګه یې له روسیې سره رقابت. له روسیې سره یې بیا رقابت تر ډېره پورې په تسلیحاتي برخه کې دی، روسیه په دې ډګر کې ډېره چټکه روانه ده او امریکا دا د ځان لپاره یو جدي ګواښ ګڼي.

پر دې اساس، امریکا چې نه یوازې په افغانستان کې؛ بلکې د ټولې سیمې په کچه کومه لوبه روانه کړې ده، هغه سر ته رسېدلې نه ښکاري، د افغان سولې په اړه د امریکا ضد و نقیض څرګندونې د دې ښکارندویي کوي، چې امریکا افغانانو ته هغه سوله نه غواړي چې افغانان ورته اړتیا لري؛ بلکې له خپلو ګټو او اهدافو سره سمه سوله غواړي.

## لویه څارنوالي: د صفر دوه قطعې په هغو عملیاتو کې سرغړونه شوې چې څلور وروڼه پکې ووژل شول

لویې څارنوالۍ ویلي چې د دوی څېړنې ښیي په جلال اباد ښار کې د ملي امنیت د ځانګړو ځواکونو په هغو عملیاتو کې سرغړونه شوې، چې څلور وروڼه پکې ووژل شول.

د لویې څارنوالۍ ویاند جمشېد رسولي ازادي راډیو ته ویلي، د دې پېښې په اړه لومړنۍ څېړنې بشپړې شوې، خو د تر لاسه شویو معلوماتو د ارزونې لپاره د ملي امنیت او لویې څارنوالۍ یوه ګډه کمېټه ګومارل شوې ده.

رسولي ویلي، د څېړنو په لړ کې د پېښې ځینې پټ اړخونه رابرسېره شوي او تر راتلونکې اونۍ پورې به د دغو څېړنو پایله معلومه شي.

دا په داسې حال کې ده چې د ملي امنیت د «صفر دوه» قطعې د سپټمبر په ۴مه د جلال اباد ښار په څلورمه ناحیه کې د شپې مهال پر یوه کور چاپه ووهله او څلور وروڼه یې ووژل.

د لویې څارنوالۍ ویاند تازه ویلي، موندنې ښیي چې په دغو عملیاتو کې ځینې سرغړونې شوې دي.

د نوموړي په خبره: «د ګومارل شوي پلاوي په څېړنه کې د سرغړونو یوشمېر ټکو ته اشاره شوې ده چې د لا زیاتې څېړنې لپاره زمینه برابروي. هغو کسانو چې په دغو عملیاتو کې برخه درلوده، څېړنیز پلان یې کتل کېږي او ارزول کېږي او یوشمېر نورې برخې چې د څېړنو د بشپړېدو لپاره ورته اړتیا ده».

د دولتي ځواکونو په عملیاتو کې د دغو وروڼو وژل کېدو په ټول افغانستان کې د خلکو پراخ غبرګونونه راوپارول او وروسته جمهور رییس محمد اشرف غني یې د څېړنې امر وکړ.

د دې پېښې په غبرګون کې د ملي امنیت د وخت رییس محمد معصوم ستانکزي هم له خپلې دندې استعفا وکړه.

له دې پېښې وروسته ولسمشر غني وویل چې د صفر دوه قطعې عملیات یې ځنډولي او هغه کسان چې د دې قضیه کې مجرم وپېژندل شي، سخته سزا به وویني.

خو د وژل شویو وروڼو د کورنۍ غړي او خپلوان وایي، یاده پېښه دوه ځله وڅېړل شوه، خو تر اوسه یې پایله معلومه شوې نه ده.

د وژل شویو کسانو ماما محمد صابر ازادي راډیو ته ویلي: «له حکومت زموږ غوښتنه دا ده چې مجرمان محاکمه کړي، ترې څېړنه وکړي چې د وژل شویو ځوانانو ګناه څه وه. نه طالبان وو، نه هم داعشیان. په دې هم نه پوهېږو چې دا پېښه شخصي رنګ لري او که د حکومت پلان و».

## نورستانی: ځینې نوماندان د پایلو د ژر اعلان لپاره پر کمېسیون فشارونه راوړي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون چارواکو ویلي، د ولسمشریزو ټاکنو د ځینو نوماندانو تر فشار لاندې دي، څو پایلې ژر اعلان کړي.

د دغه کمېسیون چارواکو په کابل کې له ځینو بهرنیو ډیپلوماتانو غوښتي چې د ټاکنو له نوماندانو وغواړي څو پر دوی فشار رانه وړي.

دا په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې د ناټو ملکي استازي نېکولاس کې او په کابل کې د برېټانیا سفیرې الیسون بلک د یکشنبې په ورځ د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته ورغلل او له چارواکو سره یې د ټاکنیز بهیر په اړه خبرې وکړې.

د دغه کمېسیون مشرې حوا علم نورستانۍ له آزادي راډیو سره په خبرو کې ویلي، له دغو دوو بهرنیو چارواکو یې غوښتي، څو پر کمېسیون د نوماندانو د فشار مخه ونیسي.

خو مېرمن نورستانۍ په ځانګړي ډول د کوم کاندید نوم نه دی اخیستی.

نوموړې ویلي: «موږ ترې وغوښتل چې له ځینو کاندیدانو سره که ګوري، نو ورته ووایي چې پر موږ دې عجله نه کوي؛ ځکه ځینې کاندیدان موږ ته وایي چې بېړه وکړو او وایي که تاسو ځنډ وکړی، نو بیا به پایلې موږ ته د درغلیو ډکې معلومې شي، نو ما له دوی (بهرنیو ډیپلوماتانو) وغوښتل چې دا خبره دې له کاندیدانو سره شریکه کړي. موږ ځانته مهالوېش، پلان او پروګرام لرو. که دوی ډېر وایي، نو طبعاً ناراحته کېږو».

نېکولاس کې د ټاکنو له کمېسیون تر لیدنې وروسته پر خپل ټویټر ولیکل، چې دا کمېسیون په جدیت کار کوي، څو ډاډ تر لاسه شي چې د باوري رایو شمېرل په دقت تر سره شي.

نوموړي زیاته کړې، عجلې ته اړتیا نشته او باید له زغمه کار واخیستل شي.

بلخوا الیسون بلک هم تر دې لیدنې وروسته ویلي چې د کمېسیونونو په کارونو کې باید مداخله ونه شي.

نورستانۍ ویلي، دغو چارواکو د ټاکنو خپلواک کمېسیون کارونه ستایلي او غوښتنه یې دا وه چې دا کمېسیون باید خپله بې طرفي وساتي او کارونه په شفافه توګه مخ ته یوسي.

بلخوا ځینې ټاکنیز ټیمونه د ټاکنو کمېسیون له کاره په بشپړ ډول راضي نه دي.

د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې د ټاکنیز ټیم غړي فضل احمد معنوي د رایو د شمېرلو بهیر ډېر ورو بللی دی.

هغه ویلي: «کله د انټرنېټ د کمزورتیا پلمه راوړي، کله تخنیکي ستونزې رامخته کوي. هر دلیل چې وي، کولی شي شک رامنځته کړي چې ولې دا مسئله دومره ورو ده او ځنډول شوې ده».

خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون چارواکو ویلي چې د څارونکو د نشتون له کبله د کمېسیون په کارونو کې دری ورځې ځنډ راغلی دی.

وړمه ورځ د یاد کمېسیون رییسې وویل چې د تېرو ولسمشریزو ټاکنو د ۸۵۵۶ محلونو پایلې تر ارزونې او تصفیې وروسته چمتو دي، چې د معلوماتو جمع بندۍ مرکز سیستم ته ور زیاتې شي.

# ولسمشریزې ټاکنې؛

## مولانا عبدالله: ښايي د کارونو د پڅوالي له امله لومړنۍ پايلې په ټاکلې نېټه اعلان نه شي



سره له دې چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د تلې په ۲۷مه د لومړنيو پايلو د اعلان خبره کړې ده، تازه د دغه کمېسيون يوه غړي ويلي چې ښايي په ټاکلې نېټه ابتدايي پايلې اعلان نه شي کړی. د ټاکنو خپلواک کمېسيون کمېشنر مولانا عبدالله وايي، که کارونه همداسې پڅ روان وي، نو ښايي په ټاکلې نېټه لومړنۍ پايلې اعلان نه شي. بلخوا د ټاکنو خپلواک کمېسيون رييسه حوا علم نورستانۍ بيا وايي چې د دوی کارونه په سمه توګه مخ ته روان دي او ښايي تر ټاکلې نېټې مخکې خپلې چارې بشپړې کړي.

تر دې وړاندې هم داسې اندېښنې وې چې ښايي د ټاکنو خپلواک کمېسيون لومړنۍ پايلې په ټاکلې نېټه اعلان نه شي کړی، خو په لومړي ځل د دغه کمېسيون يوه غړي ويلي چې د ابتدايي پايلو اعلان ښايي وځنډېږي. د ټاکنو خپلواک کمېسيون کمېشنر مولانا عبدالله وايي، کارونه پڅ مخ ته روان دي او که همداسې روان وي، د ابتدايي پايلو اعلان به وځنډېږي. مولانا عبدالله پر خپله ټويټر پاڼه ليکلي، چې تر اوسه له نږدې ۲۷ زرو محلونو، د ۱۴ زرو بايومټريک دستګاوو نهايي معلومات د کمېسيون سرور ته انتقال شوي او که دا بهير په همدې بڼه روان وي، د تلې په ۲۷مه د ابتدايي پايلو اعلان نا ممکن دی. نوموړی وايي: ((له ۲٦ زرو او ٥٦٨ محلونو تر دې مهاله د ۲۲ زرو او ۴۰۰ دستګاوو ابتدايي معلومات او ۱۴ زرو دستګاوو نهايي معلومات د کمېسيون سرور ته انتقال شوي، که دغه بهير په همدې بڼه روان وي، د ولسمشرۍ ټاکنو د ابتدايي پايلو اعلان د ميزان په ۲۷مه نا ممکن دی)).

خو د دې څرګندونو په غبرګون کې د ټاکنو خپلواک کمېسيون مشره حوا علم نورستانۍ وايي، چې کارونه له مهالوېش سره سم روان دي او په ټاکلې نېټه به لومړنۍ پايلې اعلان کړل شي. د نوموړې په خبره، ښايي د دوی کارونه د پايلو تر اعلان ډېر مخکې بشپړ شي. هغه وايي، تر اوسه يې د ۲٦ ولايتونو جمع بندي ختمه کړې او پاتې نورو باندې کار روان دی. نورستانۍ وايي: ((موږ ژمن يو چې د تلې په ۲۷مه لومړنۍ پايلې اعلان کړو. خو بيا هم دا تخنيکي مسايل دي. کله د کار چټکتيا ډېره وي او کله کمه، خو موږ باوري يو چې تر ټاکلي مهالوېش مخکې به خپل کارونه بشپړ کړو)).

تر دې وړاندې ځينو ناظرو بنسټونو هم دا ويلي وو، چې ښايي د ټاکنو خپلواک کمېسيون په ټاکلي وخت لومړنۍ پايلې اعلان نه شي کړی. بلخوا ځينې بهرني ناظران او کابل کې مېشت سفيران د ټاکنو کمېسيون د کار په اړه ډاډ ورکوي. په کابل کې د امريکا سفارت ويلي وو، د ټاکنو کمېسيون يوازې هغه رايو ته ارزښت ورکوي چې شفافې او بايومټريک شوې وي. دوی ټينګار کوي چې د ټاکنو کمېسيون چارې په سمه توګه مخ ته رواني دي او شفافيت ته ژمن دي.

له دې سره هممهاله په کابل کې د کاناډا سفير، د ټاکنو له کمېسيونه د ليدنې پر مهال ويلي، چې په ټاکنيزو کمېسيونونو کې د شفافيت لپاره له موجودو ميکانېزمونو هرکلی کوي او وايي چې د کارونو له بشپړېدو وروسته به ابتدايي نتايج اعلان شي. نوموړی وايي: ((د ټاکنو کمېسيون ميکانېزم او پروسيجرونه مې وليدل، د دوی په ژمنتيا او شفافيت باور لرم. تر اوسه د کمېسيون په کارونو کې هېڅ ډول ستونزه نشته او ټاکنيز کمېسيونونه به د خپلو کارونو له بشپړولو وروسته نتايج اعلان کړي)).

بلخوا د ټاکنو خپلواک کمېسيون مسوولان وايي، چې د دواړو انتخاباتو کمېسيونونو د مشترکې پرېکړې پر اساس، دوی يوازې بايومټريک رايو ته اعتبار ورکوي. د دوی په خبره، د شفافيت په برخه کې به هېڅ فشار ته تسليم نه شي او هېڅ وخت به هغه رايې ونه شمېرل شي چې بايومټريک شوې نه وي.

## د صنعتکارانو ټولنه: د برېښنا کمښت او نورو ستونزو په کندهار کې د صنعت د ودې مخه نيولې ده

د کندهار د صنعتکارانو ټولنې مشر فيض الحق مشکاني ويلي، د دغه ولايت صنعتکاران د برېښنا د کمښت، ناامنۍ، په صنعتي پارک کې د خدماتو او د خپلو توليداتو لپاره د مناسب بازار د نشتوالي له امله له جدي ستونزو سره مخ دي او د صنعت پر ودې يې ناسم اغېز کړی دی.

مشکاني ويلي، د صنعتکارانو تر ټولو عمده ستونزه د برېښنا کمښت ده چې له يوې خوا يې له امله لسګونه فابريکې تړلې دي او د لسګونو نورو فعاليت يې نيمګړی دی.

هغه زياته کړې، د کندهار صنعتي پارک ته د ډيزلي جنراتورونو پر مټ ۱۰ مېګاواټه برېښنا ورکړل شوې ده؛ چارواکو ژمنه کړې وه چې دغه برېښنا به تر هغه ورکول کېږي، چې د صنعتي پارک لپاره سولري او يا وارداتي برېښنا چمتو کېږي.

دوی ويلي، همدا اوس د صنعتي پارک لپاره د جنراتورونو تېل خلاص شوي او مرکزي اداره وايي چې د ۱۵۰ زرو لېترو تېلو قرارداد يې کړی، خو لا کندهار ته ور رسېدلي نه دي.

خو د ده په خبره، شاوخوا دوې مياشتې کېږي چې د دې برېښنا کچه اوس له ۱۰ څخه ٦ مېګاواټو ته راټيټه شوې چې بسنه نه کوي.

د صنعتي پارک لپاره د ۱۰ مېګاواټه سولري برېښنا په اړه مشکاني ويلي، له بده مرغه دغه برېښنا د کجکي په برېښنا پورې تړلې ده او په مستقله توګه ګټه نه شي ورڅخه اخيستل کېدای.

هغه ويلي، دغه پروژه په ډېره لوړه کچه پرانيستل شوه، خو له بده مرغه هغه الې چې له سولر څخه په مستقله توګه ګټه اخيستنه ممکنه کوي، نصب شوې نه دي.

د ده په خبره، له همدې امله کله ناکله د برېښنا جريان له ډېرېدو او کمېدو او يا هم تګ او راتګ له امله ماشينري زيان ويني.

مشکاني زياته کړې، په ټوله کې په صنعتي پارک کې ۷۴٦ فابريکو ته ځمکې ورکړل شوې چې ۳۵۰ فابريکې اوس موجودې دي، خو د برېښنا د کمښت ستونزې له امله بيا يوازې ۸۰ فابريکې د ورځې او ۸۰ فابريکې د شپې فعاليت کوي.

مشکاني د ځينو نورو ستونزو يادونه هم کړې او ويلي يې دي چې د کندهار صنعتي پارک ټوله ځمکه شاوخوا پنځه زره جريبه ده چې له ٥ تر ٦ سوه جريبه يې غصب شوې ده.

د ده په خبره، ډېره ځمکه کوچيانو لاندې کړې او د صنعتي پارک د فابريکو په منځ کې د کوچيانو شتون د دوی د کارونو پر وړاندې خنډ جوړ کړی دی.

هغه ويلي چې ولايتي اداره دې دغه ځمکه له غصب څخه خلاصه کړي، څو صنعتکاران په کې فابريکې ودانې کړي.

## د امريکا سفارت: په ولسمشريزو ټاکنو کې د درغليو لپاره هېڅ ځای نشته

په کابل کې د امريکا سفارت ويلي، په ولسمشريزو ټاکنو کې د درغليو لپاره هېڅ ځای نشته.

دغه سفارت پر خپل ټوېټر ليکلي، د دوی کارکوونکو د افغانستان د ټاکنو کمېسيون د اطلاعاتو له مرکز څخه ليدنه کړې او د دغه مرکز د کارکوونکو د نه ستړې کېدونکو هڅو ستاينه يې کړې ده.

د امريکا سفارت دغه راز زياته کړې: «افغان رای ورکوونکي بايد دا ډاډ تر لاسه کړي چې يوازې قانوني رايې، په شفافيت او بې طرفۍ سره شمېرل کېږي».

په همدې مهال د ټاکنو خپلواک کمېسيون هم ويلي چې په کابل کې د امريکا د سفارت مرستيالې کرين ډيکر د ټاکنو د تر سره کېدو او پايلو د جمع بندۍ په اړه د کمېسيون له رييسې او نورو غړو سره کتلي دي.

د ټاکنو کمېسيون د معلوماتو له مخې، په کابل کې د امريکا سفارت مرستيالې په برياليتوب سره په افغانستان کې د ولسمشريزو ټاکنو په تر سره کېدو خوښي ښودلې او ويلي يې دي چې امريکا له ياد بهير او افغانانو څخه ملاتړ خپل مسووليت ګڼي.

ډيکر ويلي: «امريکا په افغانستان کې د ډيموکراسۍ د پايښت لپاره له تېرو ۲۰ کلونو پانګونه کړې او شل کاله نوره هم حاضره ده چې په دې برخه کې ستاسو سره کار وکړي».

بلخوا د ټاکنو کمېسيون هم ويلي چې د دغه کمېسيون مشرې حوا علم نورستانۍ په دغه ليدنه کې ويلي: «دواړه کمېسيونونه په شفاف او بې طرفانه ډول خپل کارونه مخته وړي او د هېڅ فشار ته به غاړه کېنږدي».


دا په داسې حال کې ده چې ولسمشريزې ټاکنې د رواني تلې مياشتې په شپږمه وشوې چې د ټاکنو کمېسيون د معلوماتو له مخې، ټول ټاکنيز مواد له ولايتونو څخه کابل ته انتقال شوي چې دا مهال يې په سيسټم کې د ځای پر ځای کولو چارې رواني دي.

په کابل کې د امريکا سفارت داسې مهال دا څرګندونې کوي، چې ځينو نوماندانو په تېرو ټاکنو کې د درغليو د تر سره کېدو په اړه شکايتونه کړي دي.

يادو کانديدانو ويلي، چې په ولسمشريزو ټاکنو له بايومټريک پرته نورې کارول شوې رايې نه مني.

بلخوا د ولسمشريزو ټاکنو دوو نوماندانو عبدالله عبدالله او اشرف غني ټيمونو په يادو ټاکنو کې د بريا ادعاوې کړې دي. خو د امريکا په ګډون، له ټاکنو څخه د ملاتړ نورو بنسټونو ويلي چې د پايلو د اعلانولو صلاحيت يوازې ټاکنيز کمېسيونونه لري او له نوماندانو يې غوښتي چې د خپلې بريا په اړه له وړاندوينو څخه ډډه وکړي.

## کانګرېس: له سوريې د امريکايي ځواکونو وتل به په سيمه کې نوي ګواښونه رامنځته کړي



د امريکا د کانګرېس دوو لوړپوړو استازو د سوريې له شمال ختيځ څخه د امريکايي سرتېرو د ايستلو په تړاو د ولسمشر ټرمپ پرېکړه غندلې ده.

د استازو جرګې او د سنا مجلس دوو مشرانو، نانسي پلوسي او مچ مک کانل د دغو سرتېرو ايستل د سيمې امنيت او ثبات ته ګواښ بللی دی.

دوی ويلي، وېره لري چې د سوريې له شمالي برخو د امريکايي ځواکونو وتل به په سيمه کې د کرد وسله والو پر ضد د ترکيې بريد ته لار هواره کړي او دغه څه به ناوړه پايلې ولري.

د امريکا د استازو جرګې مشرې نانسي پلوسي ويلي، دا اقدام ايران، روسيې او هم د امريکا متحدينو ته يو داسې خطرناک پيغام رسولی شي، چې ګواکې امريکا د اعتماد وړ ملګرې نه ده.

هغې په يوې اعلاميه کې پر ولسمشر ټرمپ غږ کړی چې دا خطرناکه پرېکړه بېرته راوګرځوي.

بلخوا د سنا مجلس د اکثريت جمهوري غوښتونکو مشر ميچ مک کانل هم ويلي چې له دې سيمې په بېړه د امريکايي سرتېرو ايستل يوازې د روسيې، ايران او د اسد د رژيم په ګټه دي. نوموړي د يوې اعلاميې په خپرولو سره ويلي چې دا کار په سيمه کې د اسلامي دولت ډلې يا داعش او نورو تروريستي ډلو د بيا راټولېدو خطر ډېروي.

بلخوا روسيې د سوريې په شمال کې د ترکيې پوځ د عملياتو په اړه غبرګون ښودلی دی.

د کرېملين وياند ديمتري پېسکوف د سوريې په شمال کې د ترکيې راتلونکي عمليات د ترکيې د امنيت ساتنه بللې ده. نوموړي ويلي: «دا د هغو تروريستي عناصرو پر ضد اقدام دی چې غواړي د سوريې خاوره د خپلو پناه ځايونو په توګه وکاروي، خو زه تکراروم چې تر ټولو دمخه لازمه ده چې د سوريې خاورې او سياسي حاکميت ته هم درناوی وشي».

دا په داسې حال کې ده چې امريکايي ځواکونو د اکتوبر په اوومه د ترکيې پولې ته نږدې د سوريې له شمالي سيمو چې د سوريې د ډيموکراتيکو ځواکونو په لاس کې دي، وتل پيل کړي دي.

سپينې ماڼۍ د اکتوبر په شپږمه د امريکا او ترکيې د ولسمشرانو ترمنځ له ټليفوني خبرو وروسته وويل، د سوريې په شمال کې د ترکيې عمليات نږدې دي. سپينې ماڼۍ دغه راز وويل، په سوريه کې د امريکا سرتېري به په دغو عملياتو کې برخه وانه خلي او نه به يې ملاتړ وکړي.

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت يوه لوړپوړي چارواکي چې نوم يې نه دی ښودل شوی، ويلي، سره له دې چې ولسمشر ټرمپ ظاهراً د لويې کچې وتلو خبره کړې، خو ډېر لږ شمېر امريکايي سرتېري د سوريې له شمالي برخو وتلي دي .

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

### پنځم څپرکی
### له منځه تلونکي قومونه




د عبدالولي سازمان هم د نورو طالب ډلو په څېر جرمي فعالیتونه پیل کړي و. د ۲۰۰۷ز کال په مني کې یې، په عام ډول د سر پرېکولو لوبه پیل کړه. د ډسمبر تر میاشتې وړاندې، د ولي ډله د پاکستاني طالبانو له تحریک سره یو ځای شوه. په ۲۰۰۸ز کال یې ځایي سلفي جهادي سیالان وځپل او په سیمه کې یې واک ډېر شو. له واک زیاتېدو سره د دې ډلې لاس ته د مرمر ډبرې له سوداګرۍ ډېر عواید لاسته راتلل. د ۲۰۰۸ز کال تر نیمایي، طالبانو د عامو خلکو شخړې حلولې، مالیات یې راټولول، د نشه یي توکو قاچاق یې کنټرولاوه، خپلې محکمې او زندانونه یې لرل. د دې ډلې ځینو غړو جرمونه کول، بداېه خلک به یې د پیسو لپاره تښتول.

د باجوړ په څېر مومند ولسوالۍ کې هم طالبانو خپل مخالفین په نښه کول. د ۲۰۱۰ز کال په جولای او ډسمبر میاشتو کې یې دوه ځانمرګي بریدونه وکړل چې په ترڅ کې یې طالب ضد قومي مخور او په سلګونو عام خلک ووژل شول. دې ډلې په پرلپسې توګه د شولې لښکر پر غړو بریدونه کول. د ۲۰۰۸ز کال د مې د سولې په تړون کې یوازې یاغیان لا هم ځواکمن شول. د سولې د تړون له مخې حکومت منلې وه چې په سیمه کې به د غیر دولتي سازمانونو فعالیت ته هېڅ ډول اجازه نه ورکوي، په بدل کې یې، طالبانو منلې وه چې پر حکومتي پرسونل او ودانیو به بریدونه نه کوي. دا تړون ژر ناکام شو. د ۲۰۰۸ز کال په پای کې امنیتي ځواکونو له باجوړ څخه د خپلو عملیاتو لړۍ مومند ولسوالۍ ته هم وغزوله.

تر هغې وړاندې چې د پاکستان د پوځ مشر جنرال اشفاق کیاني واشنګټن ته سفر وکړي، د پاکستان لپاره د امریکا سفیر این پېټرسن د ۲۰۰۹ز کال په فبروري کې په یوه برېښنالیک کې لیکلي وو: ((دا زموږ لپاره ښه خبر دی چې پوځ او پوله ساتي ځواکونه په باجوړ او مومند کې جګړه کوي. ولسمشر زرداري دې جګړې ته ژمن دی، هغه پوهېږي چې اسامه بن لادن په عامه د پاکستان پر ضد کړنې ترسره کوي.)) بد خبر دا دی چې یاغیان په پرلپسې توګه خپله اجنډا مخ ته وړي.

د ۲۰۱۱ز کال په مني کې، اسلاماباد ادعا وکړه چې د مومند ولسوالۍ ټول کنټرول یې په لاس کې اخیستی و، خو په دې سیمه کې لا هم امنیت ګواښوونکی و. هغه لوی شمېر خلک چې پېښور ته کډوال شوي وو، خپلو کورونو ته په راتګ کې زړه نا زړه وو. هغوی له طالبانو وېرېدل، ځکه طالبان له عملیاتو وروسته لا ځواکمن شوي وو. د ۲۰۱۱ز کال په نوومبر میاشت، په مومند ولسوالۍ کې د امریکایي بې پیلوټه الوتکې په یو برید کې، څلورویشت پاکستاني سرتېرې ووژل شول. د دې کار په ځواب کې پاکستاني حکومت په خپله خاوره کې د ناټو په اکمالاتي کاروانونو اته میاشتې بندیز ولګاوه. په سویل لوېدیځ بلوچستان کې یې د امریکایانو د بې پیلوټه الوتکو یوه نظامي اډه هم وتړله. له کلونو طالبانو په مومند کې خپل شوم اهداف پلي کول. په پېښور دره کې هم امنیت ورته ګواښوونکی و.

خیبر قبایلي ولسوالي د تاریخ په اوږدو کې د سویلي او مرکزي اسیا د نښلولو له کبله ستراتیژیک ارزښت لري. دې سیمې په ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ز کلونو کې افغانستان ته د مالونو د ترانزیټ په خاطر خورا لوړ اقتصادي ارزښت لاره. د خیبر په ګاونډ کې له مومند ولسوالۍ څخه د شینوارو او افریدیو قومونو ځینو غړو پېښور کې سوداګري کوله. په ۱۹۸۰ز لسیزه کې، هغه مهال چې مجاهدینو په افغانستان کې د روسانو پر ضد جګړه کوله، په مومند ولسوالۍ کې د افریدي قوم له منځه دیني عالمانو په ځایي سیاست کې رول زیات شو. یادو علماوو د اسلام بېلابېلې لارې وړاندیز کولې چې له مخې یې فرقه یي ناندریو ته لاره اواره شوه. عرب یاغیانو غوښتل چې په ۱۹۹۰ز لسیزه په خیبر کې له خپل لیدلوري اسلام پلی کړي، خو افریدیانو هغوی له خپلو سیمو وشړل. د حاجي نامدار په نوم یوه ځایي مخور چې په سعودي کې یې کلونه ژوند کړی و، په خیبر کې یې د جهادیانو لپاره یو موډل وړاندې کړ. په ۲۰۰۳ز کال یې د (اېف اېم) راډیو خپرونې پیل کړې او یوه ډله خلک یې د ځایي ژوند د تنظیم لپاره وګمارل.

په ۲۰۰۵ز کال، په خیبر کې هغه مهال د دېوبندیانو او بریلویانو تر منځ سیالۍ زور واخیست کله چې دوو سیالو عالمانو (اېف اېم) راډیوګانې پرانیستې. دواړه د دې سیمې اوسېدونکي نه وو، خو ځایي خلک یې جذب کړي وو. مفتي منیر شاکر، یو بنسټپال دېوبندي تبلیغي و چې په اصل کې د هنګو اوسېدونکی و، پیر سیدالرحمن یو افغان بریلوي پلوه دیني عالم و. دوی دواړو د ځایي خلکو په منځ کې د خپلو راډیویي خپرونو پر مټ کرکه او نفرت خپور کړی و. هغوی ډېر ژر د یو بل پر ضد د کفر ټاپې ولګولې. هر یوه یې ډېر ژر شخصي ملېشې جوړې کړې. شاکر د منګل باغ په نوم له یوه کس سره ملګری شو او په ۲۰۰۵ز کال یې د لشکر اسلام ډله جوړه کړ. راتلونکی کال، رحمن د قاضي محبوب الحق له کسانو سره یو ځای شو او د انصار الاسلام ډله یې جوړه کړه.

دوام لري...

# چارلي چاپلین

اکسوس کتابپلورنځی

د برېټانیې مشهور او ممتاز فلمي هنرمند چارلي چاپلین د ۱۸۸۹ ز کال د اپریل په ۱۶مه په لندن کې وزېږېد، پلار او مور یې سندرغاړي وو، په پنځه کلنۍ کې چاپلین د خپلې مور پر ځای په یو نمایش کې سندرې وویلې او ننداره چیانو یې ستاینه وکړه. تر هغې وروسته چاپلین په هنري صحنه کې په خپل هنري ژوند پیل وکړ. کله چې هغه د کارنون په ننداریز هنري پلاوي کې ګډون وکړ، د ګونګ مرغه په نامه ډرامه کې یې اصلي رول ولوباوه او بریالی شو.


تر ۱۹۰۰ ز کال وروسته چاپلین په امریکا کې پر خپلو ګرځنده هنري نندارو پیل وکړ او ستر بریالیتوبونه یې تر لاسه کړل. په ۱۹۱٤ ز کال کې هغه په امریکا کې د لومړي ځل لپاره په فلم کې رول ولوباوه او ورپسې یې په همدې کال کې په ۳۵ فلمونو کې کار کړ. تر ۱۹۱٤ ز کال وروسته چاپلین په فلمي پرده کې خپل ځانګړی صورت خلکو ته وښود، چاپلین له ۱۹۱٤ تر ۱۹٦۷ ز کال پورې نږدې په ۹۰ فلمونو کې رول لوبولی دی۰ په فلمونو کې د چاپلین لخوا لوبول شوی رول اساساً د عادي او معمولي خلکو صورت و، د دغو عادي کسانو ژوند تل له ستونزو سره مخامخ کېده، خو دوی دغو ستونزو ته خپل سرونه نه وو ټیټ کړي او په ډېر جرئت سره یې له راز راز ستونزو سره مقابله کوله، هغه په فلمونو کې د کاپیټالېستې ټولنې د بدو او ناوړو پدیدو په مقابل کې تېز طنز او مسخره تر سره کړه. چاپلین د کومیډۍ یو ستر هنرمند و، هغه په خپلو فلمونو کې د طنز او مسخرې په واسطه د فلم ننداړچیانو ته کیسې ویلې، چاپلین په فلمونو کې نه یوازې د کاپیټالېستې ټولنې د ناوړو او بدو پدیدو په هکله له تېز طنزه کار واخیست، بلکې له انسانانو سره یې خپله مینه هم څرګنده کړه. د بېلګې په ډول؛ په مدرن ټایمز، لوی ډیکتاتور او نورو فلمونو کې یې د خلکو په اړه خپله توده پاملرنه او احساسات وښودل.

چاپلین د کومیډۍ لوی استاد او ستر فلمي هنرمند و، هغه خپل ټول عمر فلمي هنر ته وقف کړی و، د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو او سیمو کې خلك د ده له فلمونو سره مینه لري. چاپلین په ۱۹۷٦ ز کال کې د چین شانګهای ښار ته سفر وکړ او د چین د بیجېنګ اوپرا د مشهورو هنرمندانو د په زړه پورې او خوندورو تمثیلونو ننداره یې وکړه.

د شلمې پېړۍ په پنځمه لسیزه کې چاپلین په امریکا کې له زیاتو سیاسي بریدونو سره مخامخ شو، هغه اړ شو چې له خپلې کورنۍ سره یو ځای له امریکا سویس ته لاړ شي. چاپلین په خپل ژوند کې څلور ځله واده وکړ او له څلورمې ښځې سره د ژوند په اوږدېدو د اتو ماشومانو پلار شو. د ۱۹۷۷ ز کال د ډسمبر په ۲۵مه د نړۍ ډېر مشهور، ممتاز کومیډین او فلمي هنر مند چارلیس سپنسیر چاپلین د ۸۸ کالو په عمر له دې نړۍ سترګې پټې کړې. چارلېس چاپلین ومړ، خو څېره یې اوس هم د خلکو په ذهنونو کې ژوندۍ ده او دغه ژوندیتوب به تر پېړیو پېړیو دوام ومومي.

په دغه کتاب کې د چارلي چاپلین د ژوند، فکر، هنر او د ښاغلي چاپلین له فکري زاویې د ژوند کولو سبک زده کولای شی.

مینه وال کولای شي دغه کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قېمت تر لاسه کړي.




## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | The Flea Palace | Elif Shafak | ۳۰۰؋ |
| ۲ | The Forty Rules Of Love | | ۲۲۰؋ |
| ۳ | Black Milk on motherhood and Writing | | ۲۲۰؋ |
| ٤ | Talk Like Ted | Carmine Gallo | ۲۵۰؋ |
| ۵ | Every Thing | Nicola Yoon | ۲۵۰؋ |
| ٦ | Cambridge English IELts 1 with Answers | CAMBRIDGE | ۱۳۰؋ |
| ۷ | Cambridge English IELts 2 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۸ | Cambridge English IELts 3 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۹ | Cambridge English IELts 4 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۱۰ | with Answers ۵ Cambridge English IELts | | ۱۳۰؋ |
| ۱۱ | Cambridge English IELts 6 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۱۲ | Cambridge English IELts 7 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۱۳ | Cambridge English IELts 8 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۱٤ | Cambridge English IELts 9 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۱۵ | Cambridge English IELts 10 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۱٦ | Cambridge English IELts 11 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۱۷ | Cambridge English IELts 12 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۱۸ | Cambridge English IELts 13 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۱۹ | Cambridge English IELts 14 with Answers | | ۱۳۰؋ |
| ۲۰ | هشت گفتار درباره ی موسیقی1 | داریوش صفوت | ۲۵۰؋ |
| ۲۱ | هشت گفتار درباره ی موسیقی2 | | ۲۵۰؋ |
| ۲۲ | هشت گفتار درباره ی موسیقی3 | | ۳۰۰؋ |
| ۲۳ | هشت گفتار درباره ی موسیقی4 | | ۲۵۰؋ |
| ۲٤ | Sea Prayer | Khaled Hosseini | ۱۰۰؋ |
| ۲۵ | د افغانستان د اساسی قانون پېژنده او تحلیل | پوهنمل سید اکرم هاشمي | ۲۰۰؋ |
| ۲٦ | Me Before You | Jojo Moyes | ۲۲۰؋ |
| ۲۷ | Still Me | | ۲۷۰؋ |
| ۲۸ | The Five People you Meet in Heaven | Morrie | ۱۷۰؋ |
| ۲۹ | توفان در افغانستان (جلد اول و دوم ) | الکساندر لیاخفسکی | ۳۷۰؋ |
| ۳۰ | چارلی چاپلین ژوند فکر او هنر | اسماعیل آشنا | ۱۰۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۱۵ |
| € | ۸۵,۶۰ |
| Rp. | ۴۹۹ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹۵,۹۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بيړنۍ شميرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**ايډيټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اېمل خان، نذير احمد سهار
او شفيق همدرد
**خبرېالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**گرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# اقتصادي سياستونه

ليکنه: گلاب بهار -لومړۍ برخه

اقتصادي سياستونه د يوې سيمې او هېواد په کچه د زېربنايي فعاليتونو د رغولو او په هېواد کې د اقتصادي وضعې د تغير په موخه هغه گامونه دي، چې د يو هېواد د سياسي مشرانو له لوري د هېوادوالو د هوسا ژوند د رامنځته کېدو لپاره تر سره کېږي. اقتصادي سياستونه چې د عمومي سياست يوه برخه ده، نو غوره ده چې لومړی سياست وپېژنو:

**د سياست مفهوم او پېژندنه**

د سياست علم د سياسي، اقتصادي، فردي او ټولنيزو اړخونو لوستنه او څېړنه په ځان کې رانغاړي. د سياسي، اقتصادي، فردي او ټولنيزو اړخونو لوستنه له انسان سره دا مرسته کوي، څو هغه نړۍ چې پکې ژوند کوي، په غوره توگه وپېژني او د خپل مبهم راتلونکي لپاره غوره لارې چارې وټاکي، چې په نتيجه کې يې په خپل ژوند کې لوی او کوچني بدلونونه راولي.

د سياست د علم پخوانۍ مانا چې يوازې يې د حکومت او دولت د څېړنې او لوستنې علم گاڼه، اوس د منلو وړ نه ده، ځکه چې سياست په ټولنه کې غيري رسمي جوړښتونه او سياسي سلوک هم تر څېړنې لاندې نيسي، ځکه خو پر همدې بنسټ د سياست علم پوه کاتلين پر دې عقيده و، چې سياست د انساني ټولنې له جوړښت او څېړنې سره سره، د ټولنې سياسي ژوند هم څېړي. همدارنگه دوژوونال سياست د ټولنې د غړو ترمنځ د اړيکو علم بولي. پس ويلی شو چې سياست په ټولنه کې غيري رسمي جوړښتونه او سياسي سلوک هم تر څېړنې لاندې نيسي او د سياست د علم د لوستنې ساحه د بشري ټولنې د سياسي ژوند ټول اړخونه څېړي او د انسانانو تر منځ د سياسي اړيکو څېړنه هم په خپله د سياست علم دی.

د سياست لغوي مانا: د سياست کلمه د امارت په وزن د ساس يسوس، د قال يقول په وزن سره د مصدر صيغه ده، چې مانا يې اصلاح کول او ښايسته کول دي او په انگليسي ژبه کې د (politics) کلمې په نوم منل شوی، چې د ملکي، ملي او حکومتي سياست لپاره استعمالېږي. په حقيقت کې د (politics) کلمه يوه يوناني کلمه ده چې له (police) نه اخيستل شوې او مانا يې ښاري حکومت ده. همدارنگه دغه يوناني کلمه په يوناني ماناگانو سره د ديارلسمې پېړۍ په اوايلو کې په فرانسوي ژبه کې هم د استعمال وړ وگرځېده، چې په هغه عصر کې د سياست مانا هم پر ښاري حکومت باندې د فن او پوهې حاصلول وو.

د سياست اصطلاحي پېژندنه: د سياست اصطلاحي پېژندنې په هکله بايد ووايو، چې سياست بېلابېلو علماوو په بېلابېلو عبارتونو تعريف کړې، چې له يو څو څخه يې په لاندې ډول يادونه کوو:

اول- اسلامي سياست پوه ابن خلدون (رح) ليکي چې سياست او حکومت د مخلوق د ساتنې او د هغوی د گټو د کفالت نوم دی، چې دا ډول سياست د خدای (ج) نيابت دی چې د هغه پر بنده گانو د هغه عزوجل احکام نافذ کړای شي.

دويم- امام راغب اصفهاني د سياست په پېژندنه کې درې گونې نقاط ذکر کړي، چې په سياست کې بايد لاندې نقاطو ته پاملرنه وشي:

الف: سياست بايد د ځمکې پر مخ ساختماني او عمارتي تمدنونه رامنځته کړي.

ب: په سياست کې بايد د الله تعالی ټول احکام نافذ شي.

ج: په سياست کې بايد غوره اخلاق اختيار کړل شي.

درېيم- افريقايي عالم ابن منظور سياست د يو شي د اصلاح کولو لپاره کلک ملاتړ او ودرېدلو ته وايي.

څلورم- ابن خلدون سياست هغه څه بولي، چې د خلکو د ساتنې او د هغوی د گټې د ساتنې ضامن واوسي.

پنځم- الماني سياست پوه گرېس د سياست علم د دولت د يو قدرت لرونکي اداري په حيث پېژني او د دولت ظهور، د دولت جوړښت، قلمرو، نفوس، د دولت موخه، د دولت اهميت، د دولت اقتصادي مسايل او د دولت مالي برخو مطالعه په سياست پورې محدودوي.

شپږم- بلانچري سياست هغه پوهه بولي، چې د بحث او مذاکرې موضوع يې د حکومت د نظام جوړول وي.

اووم- ماکس وېبر سياست په نظام کې د گډون کولو او د نظام په تخصيص کې د نفوذ لپاره د کوښښ کولو په توگه پېژني.

اتم- نولي بيا سياست په لاندې توگه تعريفوي:

الف: سياست د قدرت لپاره له مبارزې څخه عبارت دی.

ب: سياست له شته امکاناتو څخه ښې گټې اخيستلو ته وايي.

ج: سياست پر انسانانو باندې له حکومت کولو څخه عبارت دی.

نهم- د سمويک په آند د سياست علم حکومت لرونکې ټولنې څېړي، چې غړي يې تر ټاکلو قواعدو او مقرراتو لاندې ژوند کوي.

لسم- سياست يانې پر دې پوهېدل چې څوک يې گټي؟ څه شی گټي؟ په کوم وخت کې يې گټي؟ څنگه يې گټي؟ او ولې يې گټي؟

يوولسم- ټولې هغه هڅې چې د دولت د واک لاسته راوړلو او بيا د ساتلو لپاره ورڅخه گټه اخيستل کېږي، عبارت له سياست څخه دي.

دوولسم- د لوی افغانستان وتلي سياسي مشران د سياست په هکله داسې وايي: ((سياست جهانداري ده، په دې مانا چې سياستوال په يو کوچني قوم، مذهبي او سيمه ييزي ډلې پورې تړلی نه وي، بلکې د ټول بشريت د خير، ښېگڼې، سوکالۍ او عدالت فکر لري)).

ديارلسم- کارلتون کريستول او اندرسن امريکايي سياست پوهانو په خپل کتاب (د سياست له علم سره اشنايي) کې سياست په دې ډول تعريف کړی دی: ((سياست د ټولنيزو علومو له څانگې څخه هغه څانگه ده، چې په ټولنه کې د سازمانونو، حکومتونو او دولتونو اړونده مسايل مطالعه کړي)).

څوارلسم- و.ا.ا لينين سياست داسې تعريف کړی دی: ((سياست موخې او موخو ته د رسېدو لارې چارې دي، چې يوه اجتماعي طبقه يې د خپلو گټو د تامين لپاره تعقيبوي)).

پنځلسم- فيودور بورلانسکي په خپل اثر (سياسي قدرت او دولتي ماشين) کې چې د سياست د علم په برخه کې مارکسيستي اولينينستي تأليف دی او په شوروي کې چاپ او نشر شوی، سياست يې په دې ډول تعريف کړی دی: ((د قدرت مفهوم، د سياسي تيورۍ محور او د سياسي پروسو مطالعه مشخصه ده، چې دغه مفهوم د سياسي نهادونو او سياسي جنبشونو د درک کيلي په خپله سياست ده)).

پس که وغواړو چې د سياست په اړه څه ناڅه بشپړ تعريف وکړو، نو ويلای شو چې سياست هغه سوله ييز يا غيري سوله ييز مشرتوب دی، چې د وگړو ترمنځ پر اړيکو، ډلو او گوندونو د هېواد په د ننه کې پر حکومتي چارواکو او د دولتونو ترمنځ پر اړيکو باندې واکمني ولري. يا هم سياست د هغو اصلاحي او جمعي هڅو نوم دی، چې د موجوده ټولنيز نظام د اصلاح او يا مطلوب نظام ته رسېدو په منظور تر لاس لاندې نيول کېږي.

د اسلامي پوهانو له نظره د سياست پېژندنه: امام محمد غزالي (رح) د سياست پېژندنې په اړه وايي: ((سياست د الله تعالی د مخلوق اصلاح او هغې لارې ته لارښوونه ده، چې د دنيا او اخرت د خلاصون لامل گرځي)). همدارنگه دی وايي: ((سياست هغه پوهه او تدبير دی، چې د ژوندانه د وسايلو او د هغوی پر چارچاپېره د افرادو او ټولنو ترمنځ د مينې، يووالي او يو له بل سره د مرستې د پيدا کېدو لامل گرځي. ابن خلدون د سياست د پېژندنې په اړه وايي: ((حکومت او سياست د انسانانو د ساتنې او د هغوی د گټو د کفالت او ضمانت نوم دی. له دې تعريف څخه دا جاج اخيستل کېږي، چې اسلامي سياست د حکومت او سلطنت له هغې تگلارې سره سروکار لري، چې له مخې يې عامه گټې بشپړېږي او د الله تعالی د بنده گانو په حالت کې غوره والی پيدا کوي. حضرت ابو الوفا ابن عقيل بغدادي رحمه الله عليه د سياست په اړه وايي: ((سياست د هغو تدبيرونو نوم دی، چې د هغو په واسطه خلک له يو بل سره د اصلاح او مصلحت پر لور نږدې کېږي. فساد او خرابي له منځه وباسي)). حضرت شاه ولي الله دهلوي رحمه الله عليه د سياست په اړه وايي: ((سياست د حکمت نوم دی او له هغو تدبيرونو څخه غږېږي، چې د هغو په واسطه د خلکو ترمنځ د اړيکو ساتنه کېږي)). علامه ابوالبقي حنفي رحمه الله عليه سياست داسې تعريفوي: ((هغه تگلاره چې د انسان د ښېگڼې او غوره والي په اړه د اوس او راتلونکي لپاره ضمانت وکړي، له سياست څخه عبارت ده)). ابن منظور افريقايي رحمه الله عليه وايي: ((د يو شي د اصلاح او سمون لپاره ملا تړل او کلک درېدل عبارت له سياست څخه دي)). له دې تعريف څخه داسې معلومېږي، چې سياست هغه کلک درېځ دی چې د وگړو د اصلاح او سمون لپاره هلې ځلې کوي. يانې سياست کلک درېځ؛ نه دروغ او فريب. ابو الحسن ماوري رحمه الله عليه د سياست او حکومت په اړه وايي: ((د اسلامي حکومت يو ډول مشرتوب، چې د دين پر ساتنې او د دنيا پر سياست باندې ولاړ دی، اسلامي حکومت د دين له ساتنې څخه وروسته د دنيا په چارو کې برخه اخلي، چې دا له سياست سره تړاو لري)). د ده له پېژندنې څخه داسې پايله لاسته راځي، چې د اسلامي حکومت لومړۍ دنده د دين ساتنه ده او کله چې د دين ساتنه بشپړه شوه، بيا نو د دنيا چارو ته وردانگي او د دنيا په چارو کې بيا له سياست څخه کار اخلي.

د فقهاوو له نظره هم د سياست روښانه مفهوم د اصلاحي تدبيرونو خوښول او کسبول، د حکومت نظم او غوره چارې پر مخ بېول دي. ابن عابدين وايي: ((سياست پر هغو ټولو لارو چارو او تدبرونو باندې صدق کوي، چې الله تعالی د خپلو بنده گانو د اصلاح لپاره مشروع کړې دي)). ابن نجيم رحمه الله عليه هم د سياست په اړه پر همدې نظر دی، خو د فقهې په کتابونو کې د سياست کلمه په عمومي ډول د (تعزيري سزاگانو) لپاره کارول شوې ده، هغه چې د قرآن او سنتو له ښکاره نصوصو څخه په ډاگه شوي نه وي، خو د شرعي قواعدو مطابق وي او مقصد يې د ټولنيز مصلحت مراعات او د فساد له منځه وړل وي؛ خو په اسلامي سياست کې سياست بايد د ظلم، نفس پالنې، دروغو، چل او فريب، مکر، خطا ايستلو او له فساد څخه بشپړ او سپېڅلې وي. سياسي اندونه او تگلارې بايد د اسلامي ارونو پر بنسټ وي او د قران کريم او حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د سنتو، لارښوونو او ارشاداتو له مخې عيار شي، چې پر همدې بنسټ سياست د هغې پوهنې نوم دی چې د خلکو ترمنځ وروروليٍ، مينه او يووالی پيدا کوي او په ټولو مسايلو کې اصلاح، تنظيم او ښکلا راولي.

**د سياست د علم موخې**

د سياست علم د اجتماعي علومو يوه څانگه ده، چې مهمې موخې يې په لاندې ډول دي:

۱.د سياست د علم لوړتوب، ارزښت او ارزښت درک کول.

۲. له بېلابېلو سياسي نظامونو، نهادونو او افکارو سره تر بشپړه حده بلدتيا.

۳. د انساني ارزښتونو درک کول او له نورو انساني ټولنو او ملتونو سره د سياسي تفاهم د امکاناتو عيارول.

۴. د خپل هېواد لپاره د کار وړ کدرونو تربيه، چې د هېواد په سياسي ساحه کې ورته د هر وخت لپاره شديده اړتيا ليدل کېږي.

۵. په ټولنه کې د سياسي شعور د لوړوالي لپاره له لازمو سياسي تکتيکونو سره اشنايي، چې د هېواد د ټولنيز ثبات په ساتلو کې ډېر موثر تماميدلی شي.

**د سياست د علم گټې**

د ټولنې ځينې وگړي چې سياسي پوهه يې ډېره ټيټه وي، شايد په دې اند به وي، چې سياست د بيکاره خلکو کار دی او هغه خلک چې د ماښام ډوډۍ په ډېرو ستونزو سره پيدا کوي، د هغوی يې په سياست باندې څه؟ همدارنگه شايد ځينې په دې اند وي، چې د سياست په علم خو له سړي څخه ډاکټر يا انجنير نه جوړېږي، خو اصلي خبره دا ده چې د سياست په علم کې حرفوي جنبه ليدل کېږي او زياتره وخت د سياست د علم او سياسي عمل تر منځ فرق موجود وي. څرنگه چې انسان ټولنيز او سياسي موجود دی، نو د ژوند د اړتياوو پوره کولو لپاره اړينه ده، چې ټولنيز نظام ښه پاتې شي او پرمختگ وکړي، نو ځکه خو ارسطو د خپل کتاب په ((الاخلاق )) لسم فصل کې ليکلي وو، چې: ((هغه فلسفه چې د انساني له چارو سره تړاو ولري، د هغې پوره او هر اړخيزه درجه تاسې د سياست په علم کې موندلی شی)).

پس سياست زياتې گټې لري چې له ځينو څخه يې په لاندې توگه يادونه کوو:

الف: د سياست د علم پلوشې دي چې په ټولنو کې د ټولو افرادو سياسي شعور روښانه کوي او د نورو له ښکار کېدو څخه يې ساتي او د خپلې ټولنې د گټو ساتلو ته يې چمتو کوي.

ب: ستراتيژۍ چې د عملي سياست جوړونې د مرکزونو په واسطه ټاکل کېږي او حکومت يې بيا تطبيق کوي او خپلې مطلوبې موخې ورباندې لاسته راوړلی شي، د سياست له اهمو گټو څخه بللی شو.

ج: د سياست علم په ټولنه کې سياسي عالمان روزي، څو جامعه د جهالت له منگولو څخه خلاصه کړي او په عمومي توگه د خلکو د پوهې کچې لوړه کړای شي او وکولای شي چې ټولنه مطلوب لوري ته سوق کړي.

د: د سياست علم د سياسيونو لپاره تيورۍ تنظيموي او هغوی ته يې د خپل هېواد د ثبات، امنيت او عدالت ساتلو په موخه وړاندې کوي.

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily






چهارشنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۱۷مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر نهمه | ۴۴۲مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۲ | ۳۰ | ۳۲ | ۲۸ | ۳۳ | ۲۸ |
| ۹ | ۱۱ | ۱۳ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۳۱ | لمر ختل ۰۵:۵۲ | ماسپښین ۱۱:۴۲ | مازدیګر ۰۲:۵۹ | ماښام ۰۵:۵۹ | ماخوستن ۰۶:۵۳

## نړۍ




## شمالي کوريا: د ملګرو ملتونو امنيت شورا د هر ممکنې پرېکړې پر وړاندې به چوپ پاتې نه شو



شمالي کوريا خبرداری ورکړی که د ملګرو ملتونو په امنيت شورا کې د دغه هېواد د وروستۍ توغنديزې ازمويني په اړه هره هڅه وشي، پيونګ يانګ به يې پر وړاندې چوپ پاتې نه شي.

دا په داسې حال کې ده چې د اروپايي ټولنې دريو غړو برېتانيا، فرانسې او جرمنې د دوشنبې په ورځ (سپټمبر ۷مه) د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د تړلو دروازو تر شا د غونډې غوښتنه کړې، څو د شمالي کوريا لخوا د تېرې اونۍ پر توغنديزې ازمويني بحث وشي.

دغو هېوادونو ويلي چې د شمالي کوريا دا اقدام د ملګرو ملتونو له پرېکړه ليکونو جدي سرغړونه ده.

يادو هېوادونو پر امنيت شورا غږ کړی چې د شمالي کوريا د وروستيو پاروونکو ازموينو په اړه بېړنۍ ناسته وکړي.

په ورته وخت کې په ملګرو ملتونو کې د شمالي کوريا سفير کېم سانګ ويلي چې د دې موضوع راپورته کول به پيونګ يانګ نور هم د خپل حاکميت د دفاع لپاره وېښ کړي.

دا په داسې حال کې ده چې روانه اونۍ د شمالي کوريا او امريکا د استازو ترمنځ هم د اټومي لانجې پر سر دوه اړخيزه ناسته بې نتيجې پای ته ورسېده.

د يادونې ده چې په تېرو دوو کلونو کې د امريکا او شمالي کوريا مشرانو څو ځله د دې ستونزې د حل په تړاو مخامخ ناستې هم کړې، خو دواړه لوري تر دې دمه کومې هوکړې ته نه دي رسېدلي.

## برهم صالح: په عراق کې روان تاوتريخوالی بايد د ملي مذاکراتــو له لارې پای ته ورسېږي



په داسې حال کې چې په عراق کې له تاوتريخوالو ډکو لاريونو يوه اونۍ تېرېږي، د دغه هېواد ولسمشر برهم صالح وړانديز کړی چې د تاوتريخوالي د ختمېدو لپاره دې ملي مذاکرات پيل شي.

دغه لاريونونه چې نږدې يوه اونۍ وړاندې پيل شوي، تر دې دمه پکې له سلو زيات کسان وژل شوي او سلګونه نور ټپيان دي.

د عراق ولسمشر برهم صالح په ټلوېزيوني وينا کې ويلي، پر لاريونوالو او امنيتي ځواکونو بريد کوونکي د خلکو دښمنان دي.

دا په داسې حال کې ده چې د نومړي له وينا څو ساعته وړاندې، د عراق پوځ ومنله چې د بغداد په ختيځ کې د لاريونوالو پر ضد له ډېره ځواکه کار اخيستل شوی دی.

د يادونې ده چې لاريون کوونکې د اکتوبر په لومړۍ د عراق په پلازمېنه بغداد کې سړکونو ته راووتل او له دې وروسته د دغو اعتراضونو لمنه عمدتاً شيعه مېشتو جنوبي سيمو ته وغځېده. دغه لاريونونه هغه مهال پر تاوتريخوالي واوښتل کله چې لاريون کوونکو د دغه هېواد په پلازمېنه بغداد کې د التحرير په نوم ميدان ته د ننوتلو هڅه کوله. اعتراض کوونکي د فساد، بېکارۍ، د کمزورو عامه خدماتو، د برېښنا د پرله پسې پرچاوۍ او د اوبو له نشتون څخه شکايت لري او د دغه هېواد له اوسني حکومته د استعفا غوښتنه کوي.

## رياست عمومی امنيت ملی کشته‌شدن رهبر شبکهٔ القاعده در شبهٔ قارهٔ هند را تائيد کرد



رياست عمومی امنيت ملی افغانستان، کشته‌شدن رهبر شبکهٔ القاعده در شبهٔ قارهٔ هند را تائيد کرد.

اين نهاد، در خبرنامه یی که ديروز به رسانه‌ها فرستاده، گفته است که عاصم عمر، رهبر شبکهٔ القاعده در شبهٔ قارهٔ هند که شهروند پاکستان است، در جريان يک عمليات نيروهای امنيتی در برابر طالبان در ولسوالی موسی قلعه ولايت هلمند کشته شده‌است.

به گفتهٔ اين نهاد، اين عمليات دو هفته پيش در موسی قلعه انجام شد.

در همين حال، حسين حقانی، سفير پيشين پاکستان در واشنگتن و جاويد احمد، يکی از تحليلگران شورای اتلانتيک امريکا، در نوشته یی که در روزنامهٔ واشنگتن پست نشر شده، اين رويداد را نمونه یی از پيوندهای پايدار طالبان با شبکهٔ القاعده گفته‌اند.

به باور نويسنده‌گان اين نوشته، حفظ رابطهٔ القاعده با طالبان، تعهدات طالبان را که در جريان گفت‌وگوهای صلح که به قطع پيوند با شبکه‌های تروريستی ابراز آماده‌گی کرده بودند، زير پرسش می‌برد.


در بخشی از اين نوشته آمده‌است: «حمله یی که در هلمند، بر مسؤل شبکهٔ القاعده برای شبهٔ قارهٔ هند انجام شده‌است، دربارهٔ تعهداتی که طالبان در جريان گفت‌وگو با امريکا، از بهر قطع پيوند با اين همکار ديرينه‌شان (القاعده) کرده بودند، پرسش‌های جدی‌یی را به‌بار می‌آورد».

در همين حال، مقام‌های محلی در ولايت هلمند نماينده‌گان اين ولايت در ولسی جرگه نيز می‌گويند که طالبان و القاعده رابطه‌هايی با هم دارند.

عمر ځواک، سخن‌گوی والی هلمند در اين باره گفت: «معلوماتی که نشان می‌داد در عمليات ولسوالی موسی قلعه، بر شبکه القاعده هم تلفات وارد شده‌است، بدين معنی است که آنان با طالبان تا حدود زيادی روابط دارند».

## ژونـــد

## بريا په اصل کې ستاسو له ذهنه پيلېږي



لومړی ځای چې تاسې پکې کاميابي له لاسه ورکوی او ماتې خورئ، هغه ځای مو خپل ذهن دی. کېدای شي حس کړئ چې اتيا زره کسان ستاسې پر ضد چيغې وهي او درته وايي، تاسې د دې کار وړتيا نه لرئ. دا ډېره لويه ستونزه ده، خو حل يې اسانه هم دی. هغوی ته يوازې دا ووايئ: خبرې مو دېوال ته وکړئ، زه په هېڅ صورت ستاسې خبرې نه اورم. که هغوی غوښتل چې په ذهن کې مو کوټه ونيسي، ورته ووايئ، زما په ذهن کې هېڅ تش ځای نشته. که مو فکر د خدای پاک له وعدو سره همغږې کړئ، ستونزې به شاته پرېږدئ او خپلو موخو ته به ورسېږئ.

اصلي کلي هغه فکر دی چې ستاسې په ذهن کې ګرځي. په ذهن کې مو څه څه ګرځي؟

پرېکړه وکړئ چې هيلې مو د خدای پاک له وعدو سره همغږې کړئ او له ځان سره ووايئ:

زه پياوړی يم، وړتيا لرم او نوښتګر يم. فکر وکړئ بريالي ياست، هماغه دې چې له همدې فکر کولو وروسته به د زړه او ذهن سکون پيدا کړئ، ځکه بريا ستاسې له ذهنه پيلېږي.

## د شکرې ناروغي او لاملونه يې



د شکرې ناروغي اصلاً د انسولين له هورمون څخه رامنځ ته کېږي. که انسان په يوه ځل هر څومره زيات خواږه مواد وخوري، ستونزه نه ورته پېښوي، ځکه که يې د پانقراس غده سالمه وي او د اړتيا وړ انسولين توليد کړي، په وينه کې اضافي خواږه مواد له منځه وړي. کله چې د انسان په بدن کې د پانقراس غده خپله دنده سمه پر مخ نه شي بېولی، هغه ده چې په وينه کې د شکرې اندازه زياتېږي او انسان د شکرې پر ناروغۍ اخته کېږي.

**د شکرې د ناروغۍ نښې نښانې:**

ناروغ ژر ژر تږی کېږي او ژبه يې وچه وي، د خالي ادرار لپاره ژر ژر تشناب ته ځي، د سترګو ديد يې کمزوری کېږي او شيان يو ډول خړ ورته ښکاري، وزن يې ورځ تر بلې کمېږي او بدن يې د ناروغيو پر وړاندې مقاومت له لاسه ورکوي.

**لاملونه يې:**

د پانقراس کمزوري او په سمه توګه د دندې نه تر سره کول دي. دغه راز په ارثي ډول هم دغه ناروغي پيدا کېدای شي، چې د کورنۍ هر غړی بيا خپله ونډه پکې لري. د بېلګې په توګه، که پلار ٦ سلنه د شکرې ناروغي ولري، امکان شته چې اولاد يې هم پرې اخته شي. که يې ورور پرې اخته وي، د بل ورور د اخته کېدو چانس يې ۵ سلنه دی، خو که مور او پلار دواړه شکر ناروغي ولري، بيا ۳۰ سلنه د دې امکان شته چې اولاد يې هم پرې اخته شي.